لیکوال: هانس کریستین اندرس ۲۰۱۵/۰۹/۲۳

ژباړونکی: آصف بهاند

# د سمندر وړه ښاپیری

## (Den lille havfrue)

### لومړی برخه

ډیر لرې، د سمندر په زړه کې، چیرې چې اوبه د غنمو د ګلانو له ښکلو بوټو هم ښکلې او شنې دي او له پاکو بلورونو نه رڼې دي او دومره ژورې چې هیڅ لنګر او درونډ والی یې غوچوړي ته نه رسیږي، دکلیسا څو برجونه که سر په سر کیښودل شي، ایله د اوبو زور ځای ته ورسیږي، چیرې چې سمندري ژوندي موجودات ژوند کوي.

داسي یې مه انګیرئ چې د سمندر په تل کې یوازې سپینه پسته شګه پیدا کیږي، نه! د سمندر په تل کې حیرانونکې ونې اوشنیلي وده کوي چې اندامونه او پاڼې یې دومره نازکې دي چې د اوبو تر تولو ورو خوځیدنه یې ښورولی شي.

تول لوی او واړه کبان په اوبو کې د شته څانګو په منځ کې په لمبلو لمبلو سره ښوري او روان وي، داسې لکه په هوا کې د مرغانو الوتل. په دغسې یو چاپیریال کې د سمندر ترتولو ژور ځای کې د سمندر د بادشاه ماڼی موقعیت لري. د دې ماڼۍ دیوالونه له مرجانو او نوک تیزه کړکۍ یې له کهربا څخه جوړې شوې دي، د ماڼی چت له صدپونه نه داسې جوړ شوی چې په دایمي ډول د خلاصیدو او تړل کیدو په حال کې وي. دا چت ډیر ښکلی دی، دا ځکه چې په کې د کارول شوو صدفو په هر پوست کې داسې رڼې مرغلرې کارول شوې دي چې یوازې د یوې ملکې د تاج ورتیا لري.

د سمندرونو واکدار کلونه پخوا خپله میرمن له لاسه ورکړې وه، خو شاهي ماڼۍ یې مور اداره کوله. هغه هوښیاره ښځه وه، خو په خپل اشرافي توب باندې له حده ډیره نازیدله، په خپله لکۍ باندې یې دولس صدپونه اینبي وو، په داسې حال کې چې اشرافیانو کولای شول یوازې شپږ صدپونه په خپله لکۍ پورې ونښلوي. سره له دې هم دستاینې وړ ښځه ځکه وه چې له خپلو ورو لمسیانو، یعنې له ورو شهزادګیانو سره ډیره مینه کوله. دا شهزادګیانې شپږ وړې ښکلې سمندرې ښاپیریانې وې، چې کشرۍ یې تر تولو ښکلې وه. د ځیرې رنګ یې د سرو ګلانو پاڼو ته پاتې کیده . او سترګې یې داسې آبي وې، لکه د سمندر د ژورو اوبو شین والی؛ خو هغې هم لکه د سمندر د نورو اوسیدونکو په څیر پښې نه درلودې او د وجود په پای کې یې د کب په شان یوه لکۍ درلوده.

سمندرې ښا پیریو اجازه درلوده چې توله ورځ د ماڼۍ په هغې سترې خونې کې لوبې وکړي چې پر دیوالونو یې ښکلي ګلان را شنه کیدل. لویې کهربایي کړکۍ به تل خلاصې وې او کبانو به کولای شول ماڼۍ ته داسې تګ راتګ وکړي، لکه د مځکې په آسمان کې چې توتکۍ په مزه دیخوا ـ آخوا او ښکته پورته الوزي. کبان له سمندرې ښاپیریو سره څنګ په څنګ ګرځیدل، د هغوی له لاسونو نه یې خواړه خوړل او پرېښودلې یې چې په مینه لاس پرې تیر کړي.

له ماڼۍ نه د باندې ستر بڼ و چې هلته سرې اورنۍ او آبي ونې هسکې شوې وې. د دې ونو میوې لکه زر داسې ځلیدې، ګلان یې د اور د لمبو په څیر وو، پاڼې او څانګې یې منظمې ښوریدې.

د سمندر په تل کې ډیرې ښې شګې وې، بل ډول ښکلې ښکاریده. هلته تر اوبو لاندې پر تولو شیانو د آبي رنګ یوه عجیبه پرده غوړیدلې وه. انسان داسې انګیرله چې د سمندر په تل کې نه، بلکې په هوا کې دی او ورنه لاندې باندې شین آسمان دی. کله به چې سمندر نه ښوریده، لمر به لکه سور ګل داسې و چې رڼا یې شاوخوا ته خپریږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

هرې يوې وړې شهزادګۍ په بڼ کې ځانته باغچه درلوده، داسې چې په خپله خوښه يې کولای شول هغه وکيني او شنيلی په کې وکري. د هغوی له ډلې نه يوې شهزادګۍ د خپلو ګلانو باغچه د نهنګ په ډول جوړه کړې وه او بلې شهزادګۍ بيا داسې غوښتل چې باغچه يې بايد د وړې سمندري ښاپيرۍ غوندې وي، خو تر ټولو ځوانې سمندري ښاپيرۍ خپله باغچه د لمر په شان ګرده جوړه کړې وه او يوازې داسې ګلان کرلي وو چې سره ځليدل.
تر ټولو وړوکې سمندري ښاپيرۍ عجيبه غلې او له خپلو خيالونو سره اخته جلۍ وه. خويندو به يې خپلې باغچې د ډوبو شوو بيړيو د پاتې شوونو په ډيرو ښکلو شيانو تزينولې(سينګارولې)، خو دې خپله باغچه کې چې څه درلودل يو سرهګلان وو چې د سمندر پر سر د لمر په شان ځليدل او بل له سپينو تيږو نه تراشلې د يوه وړوکې ښکلې هلک مرمرينه مجسمه، چې د يوې ډوبې شوې بيړۍ له پاتې شوونو نه، د سمندر تل ته رسيدلې وه. وړې سمندري ښاپيرۍ د مجسمې په څنګ کې د سرو ګلانو په شان د مجنون بيد ونه کرلې وه. ونې داسې ښه وده کړې وه چې ځوانې ښانګې يې له مجسمې نه ښکته زوړندې او د سمندر د تل شګو ته رسيدې او د سمندر په تل کې يې سيورى بل ډول(بنفش ص ۱۹) ښکاريده. سم د ونو د ښانګو په شان ښوريدل او دا منظر داسې ښکاريده لکه د ونې دسر ښانګې او ريښې يې لوبې سره کوي او يو بل ښکلوي.
وړې شهزادګۍ له هر څه نه ډير د پاس دنيا په باب د خپلې نيا کيسو ته ډيره ليواله وه. زړه نيا هم اړ وه چې ټول هغه مالومات ورته واوروي چې دا يې د مځکې د مخ د کشتيانو، ښارونو، انسانانو او ښارويو په باب لري. وړې ښاپيرۍ فکر کاوه: څومره ښکلې ده چې د مځکې پر مخ ګلان عطر او بوی لري ـ دسمندر په ژورو کې ګلانو هيڅکله بوی نه درلود ـ او ځنګلونه شنه دي او کبان د ښانګو په منځ کې ليدل کيږي او کولای شي دومره په لوړ غږ او ښکلي آواز بدلې و وايي چې ښادي ښنوونکي شي. زړې نيا الوتونکو ته کبان ويلې، پرته له هغه يط لمسيان هيڅکله نه شوای پوهيدلای چې الوتونکي څه شی دي، ځکه چې هغوی هيڅکله الوتونکي نه وو ليدلي.
نيا هغوی ته ويلي وو:«کله چې پنځه لس کلن شئ، کولای شئ پاس د اوبو مخې ته ولاړ شئ، د سپوږمۍ تر رڼا لاندې د تيږو پر مخ کينئ او لويې کشتۍ چې له هغه ځای نه تيريږي، وګورئ. تاسو به ښارونه او ځنګلونه وګورئ!»
يو کال وروسته يوه خور پنځه لس کلنه شوه. د خويندو په منځ کې دعمر توپير يو کال و، د همدې له پاره تر ټولو وړې خور بايد پوره پنځه کاله انتظار ايستلای وای ، تر څو د سمندر له تل نه د اوبو مخې ته راو وزي او وګوري چې مځکه څه ډول ده. هرې يوې بلې ته وعده ورکړې وه چې کله پاس د اوبو مخې ته له تګ نه بيرته را ستنه شي، د تر ټولو ښو ليدلو شيانو په باب کيسې وکړي ، ځکه چې زړه نيا هيڅکله په پوره اندازه نه وه غږيدلې او دوی غوښتل چې په ډيرو شيانو پوه شي.
وړه خور غلې او چُرتي وه، اوږده موده په کار وه چې پاس د اوبو مخې ته ولاړه شي، خو يوې خور هم د دې په اندازه د پاس نړۍ د ليدلو هيله نه درلوده. د سمندرونو وړه ښاپيرۍ به ډيرې شپې د خلاصې کړکۍ خوا ته دريده. هلته به کبانو خپلې لکۍ او وزرونه ښورول او دې به د تورو اوبو له منځه پاس کتل، هغې سپوږمۍ او ستورې ليدل چې د اوبو په تل کې به له تتې رڼا سره ځليدل، خو د اوبو په منځ کې به تر هغه لوی ښکاريدل چې موږ يې د مځکې پر مخ ګورو. کله به د وريځو په شان يو لوی سيورى تير شو او هغه پوهيده چې دا يا د کوم نهنګ سيورى دی او يا د کومې مسافر وړونکې کشتۍ سيورى دی چې د دوی پر سر تيريږي. هغوی هيڅکله د دې فکر هم نه شو کولای چې د سمندرونو وړه او ښکلې ښاپيرۍ د سمندر په تل کې ولاړه ده او خپل واړه ښکلې سپين لاسونه د کشتۍ لاندنۍ برخې ور غځوي.
په دې وخت کې تر ټولو مشره خور پنځه لس کلنه شوه او اجازه يې تر لاسه کړه چې د اوبو سر ته وخيژي. کله چې بيرته را ستنه شوه، د ويلو له پاره يې په سلګونو خبرې در لودې، خو تر ټولو ښکلې تجربه يې دا وه چې څنګه د سپوږمۍ تر رڼا لانې د غلي سمندر په څنډه کې د پستو شګو د پاسه اوږده وغځيده او د سمندر له څنډې نه يې د لوی ښار ننداره وکړه. په ښار کې څراغونو د سلګونو ستورو په شان سترګکونه وهل. دا هلته توانيدلې وه چې موسيقي او غږونه واوري او د ګاډيو او انسانانو غږ او ځوږ ته غوږ شي، د کليسا ګانو برجونه و وينې، د هغوی د زنګونو ټنګهاری واوري او تر ټولو لويه هيله يې ښار ته ننوتل و، چې نه وه تر سره شوې.
اوه! کوچنۍ خور څنګه له اوريدلو سره عادت شوې وه! د سمندرونو وړه ښاپيرۍ به کله چې دشپې له خوا د خلاصې کړکۍ خوا ته ودريده، د تورو اوبو له منځ نه يې پاس وکتل او د ښار او دښار د غږ او ځوږ په باب يې فکر کاوه او بيا يې په ذهن کې وګرځيدل چې دا د کليسا د زنګونو کړنګيدل اوري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بل کال دويمي خور اجازه پيدا کړه چي د اوبو سر ته ولاړه شي او هر چيري يي چي زړه غواړي لامبو و وهي. جلی برابر د لمر لويدو شيبه کي له اوبو را و وته، هغي تر ټولو ښکلي منظره وليده. هغي خپل د سترګو ليدلی حال داسي و وايه: ټول آسمان داسي و لکه طلا او اوره. بلي، هغي نه شوای کولای هغه ښکلا انځور کړي، اوره په بيلابيلو رنګونو د دي د سر له پاسه تيريدل، د قانسانو وحشي ډله لکه سپينه پرده، له اورو هم ګړندی، د اوبو پرسر د لمر له مخي تيره شوه. جلی په لمبلو لمبلو د لمر پر خوا وخوځيده، خو لمر ولويد او د سمندر او اورو رنګين ځليدل يي له ځانه سره يوړل.

د لومړۍ برخي پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ